

# ماشومتوب او زده کړې

ستاسو د ماشوم لپاره غوره ملاتړ وړاندې کول

ایا تاسو تازه جنیوا  ته راغلي یاست او د هوسپاس جنرال (Hospice général) څخه ګټه اخیستونکي یاست؟ ایا تاسو د مور او پلار په توګه د خپل رول یا ستاسي ماشوم لپاره د موجود فعالیتونو په اړه پوښتني لرئ ؟ دا سند تاسو ته د لاندې پوښتنو ځوابونه درکوي.

- 1. په جنیوا کې د ماشوم زیږون: د خپل ماشوم راتګ لپاره څنګه چمتو کیدل
- 2. د ماشوم لومړني کلونه: د ښوونځي څخه مخکې ماشومانو لپاره د مور او پلار او ماشومانو لپاره کوم ګروپونه شتون لري؟
- 3. په ښوونځي کې د ماشوم درلودل: کوم ملاتړي جوړښتونه په ښوونځي کې شتون لري؟
- 4. د مور او پلار په توګه: د خپل ماشوم د زده کړې په اړه مهم معلومات ومومئ
- 5. شوقونه /فعالیتونه: تاسو د خپل ماشوم سره څه کولی شئ؟
- 6. په سویس کې قانوني چوکاټ څه دی؟

SCAN ME

## 1. په جنیوا کې د ماشوم زیږون: د خپل ماشوم راتګ لپاره څنګه چمتو کېدل

تاسو تازه جنیوا ته راغلي یاست او تاسو امیندواره یاست:

تاسو به په منظمه توګه ستاسو د نسایی متخصص لخوا د دوی په شخصي دفترونو یا کلینیکونو کې یا د جنیوا د پوهنتون روغتون (HUG) د زیږون په څانګه کې پاملرنه او معاینه کیږي ترڅو وګوري چې ستاسو امیندواری په سمه توګه پرمخ ځي.

**د امیندواری په جریان کې د ملاتړ پروګرام څخه ګټه پورته کولو لپاره، تاسو کولی شئ لاندې ادارو سره هم اړیکه ونیسئ:**

- د جنیوا د پوهنتون روغتون د زیږون څانګه (HUG): (په فرانسوي کې) د قابلې سره دوه ملاقاتونه د میندو سره د مرستې لپاره وړاندې کیږي (یوه ناسته د ماشوم د زیږون دمخه او بله وروسته).
- "په جنیوا کې امیندواره کیدل": د هرې امیندواره میرمنې لپاره چې په فرانسوي ژبې خبرې نه کوي د زیږون لپاره د تیاري ټولګي (که اړتیا وي ستاسو په خپله ژبه ژباړل شوي).
- آرکیډ سیجز-فیمس (Arcade Sages-femmes): په جنیوا کې د آرکیډ سیجز-فیمس (Arcade Sages-femmes) ډیرې څانګې شتون لري. تاسو کولی شئ د پوښتنې کولو لپاره دوی ته مراجعه وکړئ، د ماشوم وزن واخلئ یا د ماشوم له زیږون دمخه او/یا وروسته مسلکي مشورې ترلاسه کړئ. وروسته له دې چې تاسو د زیږون له څانګې څخه ووتلئ، یوه قابله به تاسو ته کور ته درځي ترڅو وګوري چې تاسو او ستاسو ماشوم سره د (صحت په برخه کې) هرڅه سم روان دي.

**تاسو څنګه د جنیوا ښار د راجستر (سر شمېرنې /ثبت احوال نفوس) دفتر ته د خپل ماشوم د زیږون په اړه راپور ورکوئ؟**

ستاسو د ماشوم د زیږون وروسته، تاسو 3 ورځې لرئ چې په رسمي توګه د راجستر (سر شمېرنې /ثبت احوال نفوس) دفتر ته د زیږون په اړه راپور ورکړئ. دا پروسه د زیږون ډیپارټمنټ (وارډ) [د جنیوا د پوهنتون روغتون (HUG) د زیږون څانګې په څمکني پوړ کې د راجستری دفتر] څخه ترسره کیدی شي.

د راجستر (سر شمېرنې /ثبت احوال نفوس) دفتر: د یو کس د ژوند په اوږدو کې د زیږون څخه تر مړینې پورې د ټولو مهمو پیښو ثبتولو دنده لري. دا د هویت کارتونو لپاره غوښتنې راجستر کوي، د استوګنې جوازونه (اقامې) او د پتې سندونه صادروي او د ژوند د پیښو پورې اړوند سندونه لکه د زیږون، د واده او مړینې سندونه تولیدوي.

د ماشوم د زیږون په وخت کې تادیه: د ماشوم د زیږون په وخت کې تادیه شوې ګټه (یو ځل تادیه) بیا د دوه کالو څخه کم عمر لرونکي ماشومانو لپاره تادیه (میاشتنۍ تادیه) کومه چې د هوسپاس جنرال (Hospice général) لخوا چمتو کیږي.

د ماشوم کالسکا (بائسکل) له کومه ځایه ترلاسه کیږي ؟ رینفیل سنټر، سوشل پروټیسټنټ، ایماوس جنیوا ، آرکیډ سیجز-فیمز. (Renfile, Centre Social Protestant, Emmaus Genève, Arcade Sages-femmes)

د ماشومانو لپاره د ټیټ قیمت جامې چیرته موندل کیږي: ویستیایر CSP، کاریتاس ویټ شاپ، آرکیډ سیجز-فیمز (Vestiaire CSP, Caritas Vet'Shop, Arcade Sages-femmes)

## 2. د ماشوم لومړني کلونه: د ښوونځي څخه مخکې ماشومانو لپاره د مور او پلار او ماشومانو لپاره کوم ګروپونه شتون لري؟

وړیا ګروپونه د والدینو او د دوی ماشومانو لپاره (د زیږون څخه تر څلورو کلونو پورې) په کانتون کې شتون لري.

په دې ګروپونو کې ګډون ستاسو د ماشوم د ودې، ټولنیز کولو او ادغام کولو کې د مرستې لپاره اړین دی. ستاسو ماشوم به د ښوونځي له پیل کولو دمخه د فرانسوي ژبې یو څه پوهه هم ترلاسه کړي.

هغه ځایونه او خدمات چې د ماشومانو پاملرنه وړاندې کوي:

Coccinelles: د ماشومانو د پاملرنې اسانتیاوې د هوسپاس جنرال (Hospice général) په مختلفو د اجتماعي ژوند مرکزونو کې شتون لري. دا تاسیسات د مور او پلار، داوطلب کارکوونکو او د مسلکیانو لخوا اداره کیږي چې کیفیت لرونکې پاملرنه چمتو کوي.

نرسرې: نرسرې او د ابتدایی زده کړو مرکزونه **د شپاړسو اونیو څخه تر** څلورو کلونو **پورې ماشومانو لپاره منظمه پاملرنه** چمتو کوي. دا خدمتونه په یوه وقف شوي ساحه کې چمتو شوي چیرې چې په لومړیو کلونو کې مسلکیان تفریحي او تعلیمي فعالیتونه ترسره کوي ترڅو د ماشومانو وده او ټولنیز کولو کې مرسته وکړي او همدارنګه د ماشومانو سره مرسته وکړي چې فرانسوي ژبه زده کړي. ماشوم کولی شي چې د **نیم وخت یا بشپړ وخت** لپاره پکې ګډون وکړي. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د دې خدماتو ترلاسه کولو لپاره باید پیسې تادیه شي.

وړکتون: وړکتون هغه ځای دی چیرې چې ماشومان ټولنیز کیدل زده کوي او تمه کیږي چې په منظمه توګه ګډون وکړي. د دې اصلي موخه د دوو څخه تر څلورو کلونو ماشومانو ته زده کړه ورکول دي چې یوځای ژوند وکړي او لوبې وکړي. دوی د نیمې ورځې یا لږ وخت لپاره ګډون کوي، ډیری وختونه ټوله ورځ، خو دوی نشي کولی په سایټ کې د غرمې ډوډۍ وخوري. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د دې خدماتو ترلاسه کولو لپاره باید پیسې تادیه شي.

چائلډ مائنډرز: چائلډ مائنډرز د وړکتون لپاره بدیل وړاندې کوي. دا پدې مانا ده چې ماشوم د چائلډ مائنډرز په کور کې ساتل کیږي، کوم چې کولی شي د زیږون څخه تر دولسو کلونو پورې د یو څخه تر پنځو ماشومانو پورې پالنه وکړي، په اونۍ کې پنځه ورځې، په ورځ کې د لسو ساعتونو لپاره. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د دې خدماتو ترلاسه کولو لپاره باید پیسې ورکړل شي.

مختلفې اتحادیې: دا هم د زیږون څخه تر پنځه کلنۍ پورې ماشومانو سره ټولنیز کیدو کې مرسته کونکې د والدین او ماشومانو ګروپونه وړاندې کوي. تاسو به د دې مختلفو ځایونو پتې په مجلو (بروشر) کې وموميئ " Lieux d'accueil, de socialization et d'intégration pour parent et enfants en âge pré-scolaire (0 à 4 ans)" ["د مور او پلار -ماشومانو ګروپ چې د ښوونځي څخه مخکې ماشومانو سره مرسته کوي (د زیږون څخه تر څلورو کلنۍ پورې) د ټولنیز کیدلو او ادغام کولو زده کړه"]، دا مجله (بروشر) د BIE لخوا خپور شوی. دا پتې د بونژوغ جنیوا په ویب پاڼه کې هم شتون لري.

محتاط اوسئ! تاسو د خپل ټولنیز کارکونکي موافقې ته اړتیا لرئ ترڅو د خپل ماشوم د پاملرنې د لګښتونو تادیه ترلاسه کړئ.

ښوونیز او معلوماتي پروګرامونه:

کوچنی پاس (Petits Pas): د کور ناستې د دوه کلنو ماشومانو د والدینو لپاره تنظیم کیدی شي. موخه د ماشوم هڅول او د ماشوم سره د هغې په زده کړه کې مرسته کول دي. دا خدمت وړیا دی او زیات نه زیات د اتلس میاشتو لپاره چمتو کیږي.

Action Préventive en Milieu Familial (APMF): چيرې چې د ماشوم سره ستونزې شتون لري، APMF د کور ليدنو له لارې په زده کړو کې ورسره مرسته کوي. خدمات وړيا دی.

Bientôt à l'école: د مسلکيانو او مور پلار تر مينځ تعارفي غونډې چې د بيورو دي انټريګريشن ډيس اټرينجرز Bureau de l'intégration des étrangers (BIE) )، لخوا تنظيم شوي ، د ښاروالی، د هوسپاس جنرل او د Département de l'Instruction Publique لخوا د ښوونځي سره د والدين آشنا کولو لپاره او ماشومان تياره وي چې کله ښوونځي پيلکړي. د لويانو او د ماشوم پاملرني لپاره د ليدنو ځايونه چمتو کيږي. دا خدمت وړيا دی.

## 3. په ښوونځي کې د ماشوم درلودل: په ښوونځي کې کوم ملاتړي جوړښتونه شتون لري؟

که ستاسو ماشوم لا دمخه په ښوونځي کې وي، دلته ځينې معلومات دي چې ممکن ګټور وي:

په جنيوا کې، هغه ماشومان چې ښوونځي ته ځي د غرمي د ډوډۍ په وخت کې او د ښوونځي رخصت کيدو وروسته د مازديګر له 4 بجو څخه تر 8 بجو پورې د GIAP (Groupement Intercommunal pour l'Animation Parascolaire) لخوا يې پاملرنه کيدی شي.

محتاط اوسئ ! تاسو د GIAP لګښتونو تاديه کولو لپاره د خپل تولنيز کارکونکي موافقي ته اړتيا لرئ.

ستاسو په مورنی ژبه او کلتور کې درسونه: ستاسو ماشوم ته د دې وړتيا ورکوي چې په خپله مورنی ژبه کې پرمختګ ته دوام ورکړي، ښوونځی به والدينو ته د انجمنونو ليست چمتو کړي چې د ښوونځي ماشومانو ته د دوی په مورنی ژبه کې درسونه چمتو کوي. مهرباني وکړئ په ياد ولرئ چې د دې خدماتو ترلاسه کولو لپاره بايد پيسې تاديه شي. مرستي تنظيم کيدی شي.

L'école des parents: هغه ځای دی چې معلومات او ملاتړ چمتو کوي د ټولو غير فرانسوي ژبو والدينو لپاره خلاص دي د چا چې ماشومان ښوونځي ته ځي. د دې خدماتو ترلاسه کولو لپاره بايد پيسې تاديه شي. مرستي تنظيم کيدی شي.

**د کور کار (کارخانګي) سره مرسته**

د Croix-Rouge Jeunesse رضاکاران د کور کار (کارخانګي) مرستي لپاره ناستي وړاندې کوي، چې ډيری وختونه د سه شنبي په ورځ (پرته د ښوونځي د رخصتيو په جريان کې) د ښوونځي ماشومانو او بې سرپرسته کوچنيانو لپاره ځوک چې د مهاجرينو د ګډ ژوند کولو په مرکزونو کې ژوند کوي.

Reliance: د هغو ماشومانو لپاره تعليمي مرستي وړاندې کوي ځوک چې په ځانګړي ډول د Onex، Confignon، Lancy يا Vernier په ښاروالیو کې ژوند کوي.

ويلا يويو (Villa Yoyo): د چهارشنبه او شنبه په ورځو کې د ځلورو څخه تر دولسو کلونو پورې ماشومانو لپاره د کور کار (کارخانګي) کې مرسته.

La Courte Echelle: دا پروژه په "دوستانه" چاپيريال کې يو بالغ او ماشوم سره يوځای کوي.

آرا/اجيتا (Ara/Ajeta): د زده کونکو او د مسلک زده کونکو لپاره د زده کړې د ستونزو لپاره د انفرادي درسونو مرسته وړاندې کوي. دا درسونه د زده کونکو لخوا ورکول کيږي ځوک چې لاهم په کالج کې دي. مهرباني وکړئ په ياد ولرئ چې د دې خدماتو ترلاسه کولو لپاره بايد پيسې تاديه شي. مرستي تنظيم کيدی شي.

**محتاط اوسئ! تاسو د خپل ټولنيز کارکونکي موافقي ته اړتيا لرئ ترڅو د لګښت تاديه ترلاسه کړئ.**

## 4. د مور او پلار په توګه: د خپل ماشوم د تعلیم او/یا روغتیا په اړه مهم معلومات وموميځ.

د مور او پلار توب تل اسانه نه وي! له همدې امله ډېرى سازمانونه شتون لري چې مشورې خدمتونه، ځانګړې مرستې او انفرادي ملاتړ چمتو کوي. په جدي قضيو کې، د ماشومانو د ساتنې تدابير کيداى شي د مور او پلار سره د کار کولو يا د محکمې په پريکړه کې د SPMI له لورې تنظيم شي.

کله چې د يو پيچلي وضعيت سره مخ کيږئ هيڅکله يوازې مه اوسئ! د خپل ملاتړ کارکوونکي سره اړيکه ونيسئ!

## 5. شوقونه/فعاليتونه: تاسو د خپل ماشوم سره څه کولى شئ؟

په جنيوا کې ډيرى ځايونه شتون لري چې د ښوونځي څخه بهر ماشومانو لپاره شوقونه او فعاليتونه وړاندې کوي، چې ډيرې يې وړيا دي.

کله چې د خدماتو لګښتونه بايد تاديه شي، هوسپاس جنرال (Hospice général) ممکن د اضافي لګښتونو تاديه کولو له لارې په ځانګړې توګه مرسته وکړي. د خپل ملاتړي سره اړيکه ونيسئ.

غير نصابي فعاليتونه: سپورت کول، شيان جوړول، ګنډل، نقاشي کول، د ژبې زده کول، نڅا کول او داسې نور چې زموږ ماشومانو ته ډيرى فرصتونه برابروي، لکه فعال اوسيدل، تخليقي او په ځان باور ترلاسه کول.

**دلته د ځينو ګټورو اړيکو توضيحات دي:**

GE DÉCOUVRE: د چهارشنبه په ورځ د ځلورو څخه تر شپاړس کلنو ځوانانو لپاره مختلف ټولګي چې د چهارشنبه په ورځ ترسره کيږي.

Loisirsjeunes.ch: يوه ويب پاڼه ده چې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره د سپورت، هنرونو، کلتور او تفريح فعاليتونو په اړه معلومات ليستوي چې د سمستر يا ښوونځي د رخصتيو په جريان کې د جنيوا په کانټون کې وړاندې کيږي.

د ټولنې مرکزونه: په جنيوا کې ټولې ښاروالۍ خپل ټولنيز مرکزونه لري. په ځايي سيمه کې ميشت د ماشومانو او تنکيو ځوانانو دواړو لپاره مختلف فعاليتونه ترسره کيږي.

د تفريح مرکزونه: د ماشومانو لپاره ډيرى فعاليتونه شتون لري او همدارنګه د ښوونځي د رخصتى کمپونه.

جارډين رابينسن: په مختلفو ښاروالیو کې شتون لري او د ماشومانو لپاره پراخه فعاليتونه وړاندې کوي.

Païdos/Atelier des Bricolos: د مهاجرو ماشومانو لپاره مختلف فعاليتونه، پيښې او کمپونه.

ويلا يويو (Villa Yoyo): د چهارشنبه، شنبې او د ښوونځي د رخصتيو په جريان کې د ځلورو څخه تر دولسو کلونو پورې د ماشومانو لپاره وړيا فعاليتونه.

ټول لينکونه په بونژوغ جنيوا "Bonjour Genève" ويب پاڼه کې موندل کيدى شي.

## 6. په سویس کې قانوني چوکاټ څه دی؟

ماشومان یوازې پرېښودل: تاسو ته په کلکه سپارښتنه کیږي چې ماشومان مو په کور کې یوازې مه پرېږدي.

ښوونځي ته د ماشومانو بوتلل: د خوندیتوب د دلایلو لپاره، له والدینو څخه تمه کیږي چې خپل ماشومان ښوونځي ته بوځي او راولئ او ډاډ ترلاسه کړي چې دوی په خپل وخت راځي.

بهر ته تلل: د شپاړس کلونو څخه کم عمر لرونکي ځوانان د ماښام له 10 بجو وروسته اجازه نه لري د کور څخه بهر پرته لدې چې دوی سره یو بالغ کس وي.

په سویس کې، د بلوغ عمر اتلس کاله دی. مور او پلار په قانوني توګه د خپلو ماشومانو لپاره تر هغه وخته پورې مسؤل دي چې دوی د بلوغ عمر ته ورسیږي. د جنسي رضایت عمر شپاړس کاله دی.

اجباري ودونه: **د سویس جنایي قانون جبري ودونه یا د اجباري واده یا ملګرتیا هرډول هڅه منع کوي**، کوم چې د توقیف سزا او د درنو جریمو لامل کیدی شي.

پرې کول (سنتول): په سویس کې د ښځو د تناسلي برخې پرې کول یا ختنه کول منع دي، کوم چې د توقیف سزا او د درنو جریمو لامل کیدی شي.

تاوتریخوالی: د تاوتریخوالي مخنیوې د سویس د ټولنیزې پالیسۍ یوه مهمه برخه ده او د تاوتریخوالي یا ورانکارۍ ټول عملونه به مجازات شي، حتی که مرتکب یې کوچنی ماشوم هم وي.

د الکول او تنباکو استعمالول د شپاړس کلونو څخه کم عمر لرونکو خلکو لپاره منع دی، او د مخدره توکو استعمال په کلکه منع دي.